مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: ډاکټر نور احمد خالدي
ژباړن : سیلانی

۲۰۲۰/۰۷/۰۷

# د بهرنيو وييونو لهٔ پاره د دري يا پارسي ژبې معادل وييونه!

د بي بي سي پارسي د ريپورټونو لهٔ مخې، پهٔ دې وروستيو کې د ايران د اسلامي جمهوريت د پارسي ژبې او ادبياتو د اکاډمۍ رئيس غلام علي حداد ويلي دي: دا اکاډمۍ چمتو ده، چې د افغانستان حکومت سره د فارسي ژبې د وېپانګې د بډايه کولو پهٔ برخه کې مرسته وکړي. د بي بي سي لهٔ قوله: ښاغلي حداد چې پهٔ تهران کې د افغانستان او ايران د فرهنګي خبرو اترو پهٔ لومړۍ غونډه کې خبرې کولې، داسې وويل:

پهٔ ايران کې د پارسي ژبې او ادبياتو اکاډمۍ د خپلو فعاليتونو پهٔ لړ کې پهٔ دې توانېدلي چې تر پنځه پنځوس زره ډېر معادل پارسي وييونه د بهرني وييونو لهٔ پاره جوړ کړي، موږ چمتو يو دا وييونه د افغانستان حکومت ته هم ورکړو، ترڅو د افغانستان پهٔ ښوونځيو کې د پارسي ژبې زده کړه لا آسانه شي.

پوښتنه داده! د بهرنيو وييونو لهٔ پاره د پارسي ژبې د معادلو يا ورته وييونه جوړول اړين دي؟ دا کار زموږ د ځوان کهول د ښوونې او روزنې پهٔ ګټه دی چې ورځ تربلې د اړيکو او د معلوماتو د راکړې ورکړې پهٔ برخه کې لا لرې کيږي؟ دا به زموږ د ځوان کهول لهٔ پاره ګټوره وي، چې پهٔ ايران کې د پارسي ژبې او ادبياتو د اکاډمۍ د جوړو شويو وييونو لهٔ مخې کمپيوټر ته ( رايانه )، انټرنيټ ته ( تارنما) او فېسبوک ته ( رخنما ) ووايي؟ د يادوشويو وييونو او دې ورته نورو سلګونو پارسي وييونو پهٔ کارولو سره زموږ ځوانان لهٔ خپلو نړيوالو سيالانو سره نږدې کوي، کهٔ لرې کوي؟ پهٔ همدې توګه ايرانيان لهٔ خپلې ژبې څخه د عربي ژبې د لرې کولو هڅې هم کوي.

ددې موضوع د لا ښه پوهېدلو لهٔ پاره اړينه ګڼم، چې د دري ژبې ( هغه چې ايرانيان يې فارسي بولي ) د ريښې، تکامل او بهرنيو ژبو سره د ايرانيانو پهٔ دښمنۍ، پهٔ ځانګړې توګه لهٔ عربي ژبې سره ددوی پهٔ دوښمنۍ يو څهٔ خبرې وکړم.

دري ژبه د نني افغانستان د بومي وګړو او ددې سيمې د تېرونو نښلونکې ژبه ده. داليور روی او نور پوهانو پهٔ وينا؛ بلخ، خراسان او منځنۍ آسيا د ايرانۍپارسي پهٔ ګډون د ننۍ دري ژبې د زېږېدو ټاټوبی دی. دا ژبه د پخوانيو اشکاني پهلوي، تخاري او سغدي ژبو لهٔ ترکيب څخه منځته راغلې ده. دري ژبه د پهلوي او پارتي ژبې څخه وروسته نهٔ وه او ياهم د هغوی پاتې شونې نهٔ وه. بلکې لهٔ هغوی سره هم مهاله او موازي موجوده وه او د پېړيو پهٔ اوږدو کې د سانسکريت، هندي، پښتو،ترکي او عربي ژبو څخه پهٔ ګټې اخيستنې سره بډايه شوې ده. پهٔ باختر،خراسان او ماور النهر کې د اسلام لهٔ خپرېدو وروسته، د هرات د طاهريانو پهٔ پېر کې دري ژبې د عربي ژبې ليک دود خپل کړ.

کله چې مسلمانو عربو لښکرو پهٔ عراق عجم ( نني ايران ) يرغل وکړ، د هغهٔ سيمې خلکو پهٔ ساساني پهلوي خبرې کولې، دا پهٔ داسې حال کې ده چې د خراسان، تخارستان، کابلستان، سيستان، ماوالنهر او غرجستان وګړو پهٔ دري ژبه خبرې کولې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

د سعدي او حافظ مورنۍ ژبه ساساني پلهوي وه. د عربو پۀ راتګ سره د نني ایران وګړو ورو ورو خپله ژبه ( ساساني پهلوي ) لۀ لاسه ورکړه. د استاد ملایري پۀ وینا عربو لۀ پهلوي ژبې سره دوښمني درلوده، ځکه پهلوي ژبه د ساساني امپراطورۍ او ګبریان یا اور لمانځوونکو ژبه وه. عربو ډېر اثار وسوځول او پۀ دې کار بریالي هم شول چې د ۲۰۰ کلونو پۀ اوږدو کې یې پهلوي ژبه لۀ کاروني وغوزوله.لۀ شک پرته نن ایرانیان لۀ عربو سره ځانګړې دوښمني لري، دوی لۀ ننۍ پارسي څخه د عربي اثارو د پاکولو پۀ لټه کې دي او هڅه کوي چې افغانان هم پۀ دې ککړې او بې لوزومه مبارزې کې لۀ دوی سره ګډون وکړي.

پورته مو یادونه وکړه چې کله مسلمانو عربو لښکرو پۀ عراق عجم ( نني ایران ) یرغل وکړ، د هغۀ سیمې خلکو پۀ ساساني پهلوي خبرې کولې، دا پۀ داسې حال کې ده چې د خراسان، تخارستان، کابلستان، سیستان، ماوالنهر او غرجستان وګړو پهۀ دري ژبه خبرې کولې. د وخت پۀ تېرېدو سره د خراسانیانو او لۀ عربو پرته وګړو پۀ واک کې رسېدو سره سم پۀ ځانګړې توګه د نیمروز د صفاریانو څخه وروسته دري ژبې پۀ سلطنتونو کې د عربي ژبې ځای ونیوۀ او پۀ مکتوبونوکې پۀ رسمي ډول وکارول شوه. ورو ورو د سلجوقیانو او خوازمشاهیانو پۀ پرمختګ سره دري ژبه لۀ ماورالنهره هغو سیمو ته چې د نني ایران پۀ نامۀ یادیږي، خپره شوه او دایران وګړو دري یا د بلخ، ماورالنهر او خراسان ژبه د پهلوي ژبې پۀ توګه ومنله او (( فارسي )) یې ونوموله .

ولې لۀ فارس پرته پۀ نورو سیمو کې د فارسي پۀ نامه وپېژندل شوه؟ استاد ملایري یې لامل ، پر ختیځ یا بلخ، ماورالنهر او خراسان د هخامنشیانو او ساسانیانو واکمني او د هغوی فرهنګي تاثیرات ګڼي. د نني افغانستان پۀ سیمو پۀ ځانګړې توګه د افغانستان پۀ رهبرانو د صفویانو او افشاریانو د سیاسي او نظامي دور فرهنګي اغېزې هم باید لۀ پامه ونۀ غورزول شي. ددې تر څنګ د صفویانو، قاجاریانو او لۀ هغو وروسته دورو کې د فارس ادیبانو او پوهانو ته زیاته پاملرنه نۀ ترسره کېده، نو د هغو له ډلې څخه ډېرى د هند سیمو ته وکوچېدل او د هندي بابر دربار ته یې پنا یوړه، چې دا کار پۀ هند کې د پارسي کلمې پۀ کارولو کې بې تاثیره نه ؤ .

دا په داسې حال کې ده چې هندي پارسیانو د عربو لۀ یرغل وروسته سلګونه کلونه مخکې لۀ دې سیمې څخه هندوستان ته کوچېدلي وو، دوی پۀ بمبیي او نورو سیمو کې همدا اوس هم خپله ژبه دري یادوي. دا مطلب ماته پۀ ۱۹۸۰م کال زما یوې ښوونکې چې پۀ بمبیي کې د سرشمېرنې نړیوال انسټیټوټ ښوونکې او د شرین جي جي بوی مېرمن، چې د هندي پارسیانو اولاده ده، بیان او واضح کړه.

هېره دې نوي چې د استاد ملایري پۀ وینا دري ژبه ( هغه ژبه چې ایرانیان یې فارسي ګڼي ) هم مهاله لۀ پهلوي ژبې سره موجوده وه او د (( پخوانۍ پارسي ))، (( منځنۍ پارسي )) او (( اوسنۍ پارسي )) اصطلاحات ددۀ پۀ وینا جعلي او د وروستیو کلونو جوړ شوي لاسوند دي، هېڅ علمي او تاریخي بنسټ نۀ لري. دې خبرې ته پۀ پاملرنې چې د فارس د وګړو ژبه د هخامنشیانو پۀ پېر کې (( ایلامي یا عیلامي )) وه، نۀ اشکاني پهلوي، پۀ حقیقت کې ددې ناسمو اصطلاحاتو کارونه ددې لپاره ده چې پۀ تزویر یا پۀ یو ډول نه یو ډول په دري یا ننۍ پارسي ژبې خپل میراثي ملکیت قائیم کړي .

دري ژبه د نني افغانستان، تاجکستان، د ماورالنهر ډېرى سیمې لکه : بخارا و سمرقند، ترمذ و خراسان ( مرو، نیشاپور، بادغیس او هرات) او نور سیمو کې ځوانۍ ته ورسېده.

لومړني ادیبانو او شاعرانو لکه: حنظله بادغیسي، رودکي سمرقندي او نورو پۀ خراسان، بلخ او باختر کې ژوند کوو. د دري ژبې لومړني منظوم او منثور اثار پۀ خراسان کې را پیدا شول، دا به بې لامله نه وي چې ددې اثارو سبک خراساني ګڼل کیږي. نو خراساني سبک یعنې د دري ژبې د پخوانیو اثارو سبک چې پۀ ختیځ یا نني افغانستان او ماورالنهر یا منځنۍ آسیا کې را منځته شوي دي.

پۀ تاریخي لحاظ دا سبک د صفاریانو، سامانیانو او غزنویان دورې ( لۀ دریمې هجري څخه تر شپږمې هجري پېړۍ پورې ) را نغاړي. لویدیځ او سویل لویدیځ، ترکیې او نني آذربایجان وعراق عجم ( ننی ایران ) ته د سلجوقیانو او خوارزمشاهیانو د واکنیو په خپرېدو او ورتګ سره ورو ورو پۀ هغو سیمو کې د دري ژبې ادبیات خپارۀ شول او د خراساني سبک لۀ پیل څخه درې سوه کاله وروسته عراقي سبک رامنځته شو.

عراقي سبک ۹-۸-۷ پېړۍ را نغاړي، د ۷ پېړۍ پۀ پیل کې مغولانو پۀ منځنۍ آسیا ( ماور النهر )، باختر او خراسان یرغل وکړ، کومو پوهانو، علماوو او ادیبانو چې لۀ دې تاړاکه ځان روغ وویست، هغو سیمو ( اصفهان، شیرآز،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بغداد ) او نورو سیمو ته و تښتېدل چې د ددوی معنوي او مادي شتمنۍ پکې خوندي وې او همدارنګه د مغولانو له یرغل څخه په امن کې وو.

ژبه یوه ژوندۍ پدیده ده چې د پرمختګ په حال کې وي. د سیمې او نړۍ په کچه د وګړو ترمنځ دخپل منځي او فرهنګي اړیکو شتون ورځ تر بلې ژبه غني کوي. په بنګله دېش، سریلانکا، هندوستان او نورو هېوادونو کې د پوهې او صنعت دپرمختګ یو لامل؛ په نړۍ واله کچه ددغه هېوادونو د پوهانو،سیاستوالو، اداره کوونکو او سلاکارانو پراخ شتون د افغانستان او ایران په پرتله انګلیسي ژبې او په ښوونیزو مؤسساتو کې د هغو کارونه دي.

نړۍ سره د دري ژبې د لا زیاتو اړیکو پر بنسټ نوموړې ژبه د ډېرو ژوندیو ژبو څخه بدایه شوې ده. د محصل، معلم، تحصیل، متعلم، مکتب، کتاب، کتابچه، حساب، هندسه، الجبر، والی، والایت، نجون منجم او په زرګونه نور دې ورته وییونه په یقین سره په عربي ژبه کې ریښې لري، مګر د ۱۳۰۰ کلونو په اوږدو کې دري ژبې ته رادننه شوي دي، چې د دري ژبې لاینجزا( نه بېلېدونکې) برخې جوړوي.

همدارنګه په زرګونه لاتیني، فرانسوي، عربي، هندي، سانسګریت، آلماني او د نورو ژبو کلمې انګلیسي ژبې ته را دننه شوي او نن پرته له کوم تعصب څخه د انګلیسانو له خوا کارول کیږي او هېڅ څوک هېڅ کله ددې هڅه نه کوي، او نه به وشي چې نوموړې کلمې دې له انګلیسي ژبې څخه بهر کړي. یوازې متعصبه،کورذهنه او کور مغزه کسان ددې په هڅه کې دي چې بهرني وییونه له خپلې ژبې وباسي او پخپل تبر د خپلې ژبې ریښې غوڅې کړي او په ناپوهۍ سره خپل وګړي په ځانګړې توګه د پوهې تږي ځوانان له نړۍ څخه لرې وساتي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ